جمال ګټوازی

۲۰۱۲/۰۳/۲۱

# د امر یکایې سر تیری لوړ شخصیت

د کندهار ولا یت په پنجوایی ولسوالی کې د امریکا یي پوځ له بر ید نه ورو سته، چې په پا یله کې یې ډیر ملکي بې ګناه وګړي شهیدان او ټپیان شول، د امریکا ولسمشر او با ما په یوه ټلویزیوني وینا کې وویل(دا پیښه د امریکایي سر تیري لوړ شخصیت نه ځر ګندوي). نو د بارک او با ماپورتنی خبری زه دي ته و هڅولم تر څو په دي هکله یوه لیکنه وکړم.

مخکې د دینه، چې د امریکایي سر تیري د شخصیت په هکله خبري وکړو، باید لمړی په دي ځان پوه کړو، چې شخصیت څه ته وایي؟
د شخصیت په هکله د روان پیژندني ډیر عالمان په دي اند دی، چې شخصیت د یو کس ټولو هغو روحي، ذهني او رواني تل پاتي ځا نګړ تیا وو ته ویل کیږي، چې د هغه کس له خواه په ټو لنیزو اړیکو کې را ځر ګندیږي.

خو اوس اصلی خبره په لوړ شخصیت کې ده! د لوړ شخصیت در لودونکی هغه څوک دی، چې هغه ستر کارونه کړي وي. او ټول بشریت دهغه د نیکو کړنو څخه ګټه پورته کړي وي او یا لا تر اوسه ګټه اور څخه اخلي. لوړ شخصیت په کوم ځانګړي قوم ملیت او یا ملت پوری تړاو نه لري. هغه د ټول بشریت ته د درناوي وړوي. لوړ شخصیت کیدلی شي سیا سی، علمي، کلتوری او یا د ژوندانه په نورو ډګرونو کې ځانګړي کارونه تر سره کړي وي.

د بیلګي په توګه: په علمي ډګر کې کولی شوو، چې د ستر شخصیت اډیسن نوم واخلوو چې بریښنایي کشف کړه او تر اوسه کابو د نړی ټول خلک د بر یښنا څخه ګټه اخلي.
همدارنګه په سیاسي ډګر کې کولی شوو د ستر شخصیت نیلسن ما ندیلا نوم واخلو، چې په سیا سی ډګر کې یې اپارتاید ته د پای ټکی کیښود.

نو اوس پو ښتنه داده، چې د اوبا ما په خبره د امریکایي سرتیري لوړ شخصیت په څه کې دی؟

په افغانستان د پخواني شوروی اتحاد د تیری په مهال امریکا، غربي اروپا او د نړۍ ځینوو نورو هیوادونو د افغانستان له مجا هیدینو سره مالي او نظا مي مر ستي کولی. نو زه او زما په شان نورو ډیرو افغانانو په دي باور درلود، چې امریکا نه یوازی د خپلو ګټو په خا طر زمونږ سره مر ستي کوي، بلکي د خدایٔ (ج) په رضا زمونږ سره مرستي کوي.
د هیواد ځینوو جهادي مشرانو خو به لا ویل، چې امریکایان ځکه زمونږ سره مرستي کوي، چې هغوئ په خدایٔ(ج) باور لری او هغوئ دیني سپیڅلی کتاب لري. او روسان ځکه زمونږ سره دشمني کوي، چې هغوي کوم دینی کتاب نه لري او هغوئ په خدایٔ(ج) باور نه لري (کمونستان دي).
نو ډیرو افغانانو هم امریکا او د امریکا پوځ ته د یو ژغورونکي، ستر هیواد او ستر پوځ په ستر ګه کتل.
کوم وخت، چې شوروي اتحاد ړنګ او وروسته بیا په افغانستان کې د داکټر نجیب حکومت را وپر ځول شو. نو شمالي ټلوالي د دولت چاري یې په خپل واک کې وا خیستي، نو امر یکایي سیاست مدارانو داسي فکر وکړ، چې دوئ نور نو خپلو مو خو ته ورسیدل.

نو هغه ؤ، چې امریکا د افغانستان سره خپلي ټولي مر ستي بندي کړي.
نور نو د امر یکا یي سیا ست مدارانو لپاره نه دخدایٔ رضا، نه بشر دوستي او نه هم کوم نور انساني ارزښتو نه مهم ول.
امریکایي سیا ستمدارانو داسي فکر کاوه، چې اوس نو شوروي اتحاد ړنګ شوو نو ر نو دوئ او ددوئ نور هیوادوال ښه په ارامه خوبونه کولی شي. د امریکایا نو لپاره نورنو دا نه وه مهمه، چې ددوئ د ژغورني په خاطر افغانستان ټول ړنګ شوو.
دهري یوي افغاني کورنی کي ځیني د کورني غړي، کډوال، ټپیان، شهیدان او یا ته غړي یي د رواني، روحي، اقتصادي او همداسي نورو ستونځو سره مخا مخ شول. نو هغه وه، چې د امریکایي سیاست مدارانو اصلي ځیره را ځر ګنده شوه.

د ۱۱ سپتمبر د پیښي نه ورو سته کوم وخت، چې امریکا یانو په افغانستان یر غل وکړ او د طا لبانو رژیم یي را وپرځاوو، نو ډیر داسي کسان ول، چې هغوئ د امریکا یي پوځ په ښه روزنه، مډرنه او پر مخ تللی تخنیک او د هغوي


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په لوړ شخصیت باور در لود. اوپه نړۍ کی دډیرو هیوادونو واکمنانو په ځا نګړي تو ګه د نا ټو د تړون غړو هیوادونو خپل سر تیری په دي خاطر افغانستان ته را ولیږل، ترڅود دوئ په اند د القاعدي او نوري تروروستي ډلي، چې دوئ په خپله جوړي کړي او روزلي وي له منځه یوسي.

په افغا نستان او اعراق کي د امریکایې د ښکیلاک نه را په دي خواه هره ورځ د دوئ د سر تیرو لوړ شخصیت؟ ښه نظا مي روزنه؟ او لو ړ تخنییک...؟ ټول اړخونو را بر سیره کیږي.

زه غواړم، چې دلته د امریکایې سر تیرو د لوړ شخصیت؟ (......) یو څو بیلګې، چې ما د بریښنایي رسنیو ځخه را ټولی کړي، وړاندي کړم.

۱- د کونړ ولایت په غازي اباد ولسوالۍ کې د نړیوالو ځواکونو په بې رحمانه بمباریو کې لږ ترلږه شپیته تنه بې ګناه ملکي افغانان، چې اکثره یې، ښځې، ماشومان او بوډاګان ول، ووژل شول.

۲- د هرات ولا یت د شنډنډ ولسوالی د عزیز اباد په کلي د امریکایې پوځ د بمباری په پائله کې ۹۰ تنه ملکي وګړي شهیدان شول.

۳- ننګرهار د هسکې مینې په ولسوالۍ کې دچنګاښ په ۱٦مه، د واده پر ورا د ایتلافي ځواکونو په بمبار کې د ناوې په ګډون شاوخوا ۵۰ کسان وژل شوي وو، چې ډېری یې ښځې او ماشومان وو.

۴- د هلمند په ولا یت کي د امریکایې ځواکونو په بمبارې کې څوارلس ملکیان چې ټول ئې ښځی او ماشومان دی، وژل شوي.

۵- د امریکایې ځواکونو د کلیک ګروپ له خواه په وژل شویو افغانانو متیازی وکړي.

۶- دامریکایې ځواکونو د کارین ګریتس ګروپ د ساعتیري لپاره دری افغانان ووژل ګوتی یې ور څخه پریکړي او د یاد ګار په ډول یې د ځا نه سره یووړی.

۷- امریکایي سرتیرو په پنجوایي کې ۱٦ تنه شهیدان کړل.

۸- د اعرق د ابو غر یب پیښه.

نو که چیرته دا ټولو پور تنیوو پیښو ته وګورو نو بیا مونږ ته د امریکا د پوځ لوړ شخصیت؟ (.....) تر ټولو ښه را مالو میږي.

د امریکا دپوځ د کړنو څخه دا ما لو میږي، چې دوئ ته د انسان مرګ په ځا نګړي تو ګه د افغانانو مرګ هیڅ هم نه ښکاری.
که چیرته یو افغان څه وکړي نو دوئ هغه ته بیا، تروریست وایئ او ددوئ په اند باید سزا ووینې. که د دوې ګوم کس خلګ مړه کړي او یا هم نور بد کارونه وکړي نو هغه ته بیا لیونۍ (په دما غي ناروغیو بوخت) واي . نو سر بیره پردي، چې په مونږ کې دا څو لسیزی جګړه روانه ده او هغه جګړه هم دهمدوئ له خوا په مونږ را تپل شوي نو مونږ ټول جوړ او روغ یو؟ او دوئ ځان راته په لیونینتوب واچوي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ